لومړي چاپ

ناول

# د مینې خاموش څاڅکي

خاموشي هغه خبرې کوي، چې یواځې مینه یې اوریدلای شي.




Ketabton.com

لیکـوال: رازق اللــه ؛سالار؛

نیټـه: 2026-02-24

ketabton.com - The Digital Library





ketabton.com - The Digital Library



# ؛د مينې خاموش څاڅکي؛

(خاموشي هغه خبرې کوې، چې يواځې مينه يې اوريدلای شي.)

رازق الله سالار

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مينې خاموش څاڅکې ـ

## يو څو خبرې

السلام عليکم ورحمة الله و برکاته!

په دې هيله چې ټول به راته روغ او جوړ ياست.

له هر څه نه مخکې له تاسو ټولو قدرمنو لوستوونکو څخه د زړه له تله منندوی يم چې زما ناچيزې ليکنې ته مو د مطالعې لپاره وخت ورکړ، ستاسو وخت، پاملرنه او مينه زما لپاره لوی ارزښت لري.

که څه هم تر اوسه مې ځان ته د ليکوال نوم نه دې ورکړي خو له ماشومتوب څخه د پښتو ادب سره يوه ژوره مينه لرم کومه مينه چې ما تل ليکلو ته هڅوي. له لنډو نثرې ليکنو، نظمونو، غزلونو او کيسو ليکلو څخه وروسته مې دا رسماّ د ناول ليکلو لومړۍ هڅه ده، نو په د ې خاطر شايد يو څه نيمګړتياوي، اشتباهات او تيروتني به هم په کې موجودي وي نو له تاسو درنو لوستوونکو څخه مې هيله ده چې خپل د قدر وړ نظرونه راسره شريک کړۍ دا به مو له ما سره يوه نيکې وي.

خپل نظريات مو له ماسره په sraziqullah@gmail.com برښنا ليک او يا هم د 93779830844+ وټسپ شميرې له لارې شريکولای شی.

په اخير کې بيا هم له تاسې ټولو څخه يو جهان مننه، ښاد اباد او سر لوړی اوسی.

په درنښت! رازق الله سالار

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مينې خاموش څاڅکې ـ

## د کتاب پېژندنه

- د کتاب نوم: د مینې خاموش څاڅکې
- ژبه: پښتو
- نوعه: ناول
- لیکوال: رازق الله سالار
- برېښنا لیک: sraziqullah@gmail.com
- اړیکې شمېره: +93779830844
- دیزاین، لیکنه او ترتیب: رازق الله سالار
- نېټه: 2026-02-26

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مينې خاموش څاڅکې ـ

## ډالۍ

ټولو هغه زړونو ته چې د مينې سوځوونکې درد يې په خپل منځ کې ځای کړی، او ټولو هغو روحونو ته چې د فراق اور يې احساس کړي.

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مينې خاموش څاڅکې ـ

## د ليکوال يادښت

دې ناول ته مې د زړه له ژورې مينې او د ژوند د يوې ريښتينې کيسې له تجربو څخه الهام اخيستې دي.

دا کيسه د مينې، فراق او انسانې احساساتو د ژورو تجربو يوه روښانه هنداره ده. هيله لرم چې تاسي له دې کيسې څخه ژور احساسات او عبرت ترلاسه کړئ.

رازق الله سالار

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مينې خاموش څاڅکې ـ

## سريزه

هره مينه يوه ځانګړې کيسه لري. ځيني کيسي يواځې په الفاظو کې پاتې کيږي، او ځيني نوري بيا د زړه او ذهن په ژورو کې د تل لپاره ژوندۍ وي.

په ژوند کې ځينې کيسې بيا داسې وي چې يواځې په زړه کې ژوندۍ پاتي کيږي، نه په سترګو کې. دا کيسه د واورې او باران د څاڅکو لاندې د مينې، فراق او يادونو يو داستان دي. په دې ناول کې د دوو کسانو ژوند (ليلی او باران) چې د مينې خوږې شيبې يې تجربه کړې، خو د ژوند بې رحمه حقيقتونو له امله يې پای د فراق او تل پاتې خاموشۍ په بڼه وموند.

{د مينې خاموش څاڅکي} نه يواځې د (ليلی او باران) د اړيکې کيسه کوي، بلکې د انساني احساساتو ژورتيا، د زړه درد، او د هغه پټ رازونو څرنګوالي راښايي چې ځينې وختونه د ژوند د بدلون لامل ګرځې.

د باران هر څاڅکي او هره خاموشي د مينې يوه ټوټه ده، چې د لوستوونکي زړه ته د ژورو احساساتو لړۍ رسول غواړي.

دا کيسه لوستوونکې د خپلي خيالي نړۍ له لارې يوې نوي نړۍ ته بيايي، او دا راښايي چې ځيني مينې د وخت او فاصلو سره هم هيڅکله له منځه نه ځې.

مننه

رازق الله ؛ســــالار؛

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مينې خاموش څاڅکې ـ

## لومړۍ خبرې

د انسان ژوند يو داسې فلم ته ورته دی چې هېڅ صحنه يې د انسان په خوښه مخ ته نه ځي. خلک وايي هر څه په قسمت کې ليکل شوي، خو کله کله زه له ځانه پوښتنه کووم: ايا دا قسمت به دومره ظالم وي چې زموږ له خوښيو سره لوبې کوي؟ ايا د قسمت پر موږ هېڅ ډول خوشحالۍ نه دي پېرزو؟ ولې هميشه ژوند زمونږ د ارادو خلاف مخ ته ځي؟

**********

دغه او دې ته ورته خبرې مې هر وخت په زړه کې گرځېدلې. دا داسې پوښتنې وې چې ځواب يې نه په کتاب کې و، نه په مکتب کې او نه په نورو ځايونو کې. داسې پوښتنې چې هېڅ ځواب مې ورته نه شو پيدا کولی. ورځنې ژوند مې ډېر ستړې کوونکی، خو بيا هم روان و. له خپل ژوند راضي نه وم. د ورځې خوب، او د شپې بيا د روښانه ستورو لاندې له خپل ځان سره خبرې، کيسې، شکايتونه، گيلې، پټې ژړاگانې او سوچونه مې عادت گرځېدلي وو. د شپې سکوت او خاموشي مې د ژوند ملگری وه. څو کلونه وشول چې همدا مې د هرې ورځې او شپې تکراری عمل و.

**********

خو يوه شپه د عادت خلاف او يو څه عجيبه وه. شاوخوا دوه نيمې بجې وې. اسمان تياره و، ستوري لکه د خپل شتون څخه چې خپه وي، خو لا هم په زحمت ځلېدل، داسې ښکارېده لکه هغوی چې هم له خپل وجوده ستړي شوي وي، تت او کم رنگه ښکارېدل، خو له لږ ځنډ وروسته تورو وريځو په خپله غېږه کې پناه کړل. هرې خوا ته ژوره خاموشي خپره شوه. دغې خاموشۍ بيا زه دننه په زړه کې لا ډېر زورولم. له لرې سړکه د موټرو د تېرېدو غږونه، او له ځنگله د لېوانو او گيدړانو نرۍ چيغې راتلې.

**********

هرې خوا ته مې وکتل، خو داسې څه نه وو چې زړه ته مې سکون راکړي. د وريځو له لمنې څخه د سپوږمۍ نرۍ رڼا راووتله او د کوټې په کونج کې په يو زاړه بکس باندې ولوېده چې له دوړو او خاورو ډک و. په ماتو قدمونو د بکس پر لور لاړم. داسې احساس مې کاوه لکه د تېر وخت پر لور چې روان يم. بکس مې خلاص

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مينې خاموش څاڅکې ـ

کړ؛ له خلاصېدو سره ترې د ګردونو يوه توره څپه پورته شوه، يو څو ترخه ټوخي مې له خولې ووتل، او د خاورو تريخ خوند مې پر ستوني کې احساس کړ. دبکس دننه زياتره زاړه او بې استفادې شيان پراته وو. داسې شيان چې وخت پرې تېر شوی و، خو لا هم نه وو غورځول شوي. ناڅاپه مې په يوې کوچنۍ کتابچې سترګې ولګېدې. زر مې راواخيسته. د يادښت کتابچه وه. زما په خپل قلم ليکل شوې وه. خو د څو کلونو غمونو، دردونو او حادثو مې حافظه مکمله خرابه کړې وه او هر څه مې هېر شوي وو. هيڅ مې په ياد نه وو چې دا مې کله ليکلي وه او د څه په باره کې. د کتابچې لومړۍ پاڼه مې خلاصه کړه. په دوه رنګه خط پرې ليکل شوي وو:

«باران او ليلی»

زړه مې ټکان وخوړ، د دې نوم په ليدو سره مې په زړه کې يو نری درد راپيدا شو. پر ذهن کې مې د پخوانيو يادونه يوه نرۍ څپه راژوندۍ شوه. سترګې مې لمدې شوې. ځکه له څو کلونو وروسته مې خپل نوم ليدلی و. آن خپل نوم هم را څخه هېر شوی و. نه پوهېدم چې څوک يم، د څه لپاره ژوندی يم، او ولې دې حالت ته رسېدلی يم. په سختۍ مې خپل ځان کنټرول کړ. پورته شوم. د دېوال په مرسته مې ځان تر تخت پورې ورساوه او په يوه کونج کې کښېناستم. کتابچه مې پر زنګون کېښوده او په لوستلو مې پيل وکړ...

*********

د پوهنتون له فراغته څو ورځې تېرې شوې وې، خو لا هم هغه عجيب احساس مې په زړه کې ژوندی و. داسې ښکارېده لکه يو درووند بار مې چې له اوږو لرې شوی وي. خو له دې سره مې په زړه کې يو ډول تشوالی هم موجود و. لکه څوک چې له اوږدې لارې وروسته ناڅاپه تم شي او نه پوهېږي چې اوس کوم لوري ته لاړ شي. اوس نو بايد خپل ورځنی مهالوېش مې هم بدل کړای و، ځکه نور د پوهنتون تګ او درس ويلو وخت خالي شوی وو. له ډېر سوچ وروسته مې تصميم ونيولو چې تر هغه وخته چې کومه دنده پيدا کووم، خپل وخت به د کتابونو په لوستلو تېر کړم. هم به نوي څه زده کړم، هم به ذهن مې بدل شي. همدا ښه نظر و.

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مينې خاموش څاڅکې ـ

*********

سبا سهار د دهبوري څلورلارې پر لور روان شوم، چيرته چې اکسوس کتابخانه موجوده وه. کتابتون ته چې داخل شوم، يو ځانګړی سکون مې احساس کړ. د کتابتون دهليز د پاڼو د اړولو نرې غږ، د قلمونو خوځښت، او د فکر کولو خاموشي فضا ډکه کړې وه. زيات شمير خلک دننه ګرځېدل، هر څوک په خپلو لوستلو او ليکلو بوخت و، چاسره يې کار نلرلو، او نه کوم چا بل ته مزاحمت کاوه، زه هم د کتاب په لټه کې شوم. د کتابونو تر منځ ګرځېدلم، له لږ ځنډ وروسته مې سترګې د ايليف شافاک پر يوه کتاب ولګېدې چې پرې ليکل شوی و: «د مينې څلويښت اصول». نوم يې راته ډېر عجيب او جذاب ښکاره شو. را وامی خيسته او هملته مې په لوستلو پيل وکړ.

لومړی څو فصلونه مې ولوستل، عجيبه کتاب و. داسې احساس مې کاوه لکه يوې بلې نړۍ ته چې داخل شوی اوسم. د شمس تبريزي هره خبره مې پر زړه لکه مرهم لګېده. هر فصل چې مې لوسته، ذهن کې مې يو نوی انقلاب پيدا کېده. په زړه کې مې بې شمېره سوالونه پيدا شول خو ورسره د ژوند يوه رڼا هم موجوده وه. څو ساعته هملته ناست وم. نږدې نيمايي کتاب مې لوستلی و. ورځ ډېره ناوخته شوې وه، نو د کتاب ورقه مې په نښه کړله او کور ته ستون شوم، خو ذهن مې لا هم د هغه کتاب په ژورو کې بند پاتې و. ټوله شپه مې د شمس پر خبرو فکر کاوه. هره جمله، هره وينا او هر قانون يې يو نه حل کېدونکی سوال و. په همدې سوچونو کې د خوب نړۍ ته تللی وم.

*******

سهار د اذان په اورېدو سره راويښ شوم. اودس او لمونځ وروسته له کوټې ووتلم. د کورنۍ له غړو سره مې لنډه ناسته وکړه، د سهار چای د څښلو وروسته له کوره ووتلم. له ځينو ملګرو سره يو لنډ چکر ته لاړو، له يو څو نږدې سيمو څخه مو ليدنه وکړه،. تر غرمې پورې مو ځانونه ښه ستړي کړل. له غرمې ډوډۍ خوړلو وروسته هر يو خپلو کورونو ته ستانه شول، خو زه بيا د کور پر ځای کتابتون ته ولاړم، تر څو د کتاب پاتې برخه بشپړه کړم. مازيګر ناوخته کتابتون ته ورسيدم، په خپلې څوکۍ کښيناستم او د پاتې برخې په لوستلو مې پيل وکړ. کله چې د کتاب وروستيو پاڼو ته ورسېدم، د مولانا روم او شمس ملګرتيا او بيا د شمس قتل او وروسته د مولانا انتظار او د فراق کريکو، د شمس په ياد کې ژړاګانو او خدای ته فريادونو مې سترګې لمدې کړې. لوی اسوېلی

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مينې خاموش څاڅکې ـ

مې وکړ. ومې ويل: کاش هغوی سره نه وای جلا شوي. شپه ناوخته شوي وه کتاب می بند کړ او همداسی په نمجنو سترګو او ډک زړه کور ته روان شوم.

له هغې وروسته هره ورځ به کتابتون ته تللم. مختلف کتابونه مې لوستل او خوند به مې ترې اخيسته. له هغه وروسته کتابتون زما دوهم کور او د زړه د سکون يوه وسيله ګرځېدلی وه.

********

نږدې يوه مياشت وروسته، د عادت له مخې کتابتون ته لاړم. د کتاب د انتخابولو پر مهال مې په يوې جلۍ سترګې ولګېدې. هغه پر چوکۍ ناسته وه. يو لاس يې پر کتاب و، بل لاس يې پر نازکه غاړه تکيه کړی و. څو ويښتان يې پر رخسار ځوړند وو. د کړکۍ له ښيښې راغلې رڼا يې پر مخ نرم سيوري جوړ کړی و، د رڼا نرۍ کرښې يې د سترګو ځلا لا روښانه کړی وه. کوچنی چهره، مناسب غوښين بدن، ګلابي غمبوري، او توري معصومي سترګې...

زه هيڅ پوه نه شوم چې ولې، خو په هغه لحظه کې زما ذهن ګډوډ شو. د زړه درزا مې بې‌دليله تېزه شو. اخير دا د څه احساس وو؟ انجام به يې څه وو؟ نه پوهېدم. هو، هيڅ نه پوهېدم. خو صرف دومره پوهېدم چې دا عادي احساس نه وو.

********

زړه مې کلک کړ، خواته ورغلم، سلام مې واچولو، په نرم غږ يې د سلام جواب راکړ، خو د نورو خبرو کولو جرأت راکی نه وو، بس تر څنګ چوکی باندې کښيناستم او په لوستلو مې پيل وکړ، خو دا ځل د تير په څېر نه وو، ذهن مې چې هر څومره راغونډولو، خو لا هم زما نظر د هغې کوچنۍ معصومي نانځکې په طرف اوختلو، نه پوهېدم چې ولې، خو سترګو يې يو عجيبه جذابيت لرلو چې د مقابل کس نظر يې نه پريښودلو له ده څخه بل خوا واوړی....

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مینې خاموش څاڅکې ـ

********

ورځې تېرې شوې. ورو ورو بلد شوو. سلام، کلام، مسیجونه، او لنډې خبرې مو سره روانې شوې. له څو کالو تنهایی وروسته مې یو ملګرى پیدا کړي وه، (لیلي) هو، لیلي نومیده، هغه نوم نور زما د ذهن او سوچونو مرکز ګرځېدلې وو...

ورو ورو کتابتون ته زما د تړ لامل لیلي شوه، د کتابونو پر ځای به اوس د هغې لیدو لپاره تللم. د هغې غږ، مسکا، نازونه، اداګانې او تنکی خبرې... دا ټول مې د ورځې تر ټولو مهمه برخه ګرځېدلې وه. زه نه پوهېدم چې ولې د هغې سترګو زه د ځان معتاد کړم، ولې یې زه د سترګو په ژورو کې ورک شوي وم، په هېڅ نه پوهېدم، خو دومره خبر وم چې د هغې په لیدو مې زړه کې یو بل ډول احساس پیدا شوی وو. د لیلي لیدل او د هغی د خوږو او نرمو خبرو اورېدل مې د ژوند هدف ګرځېدلی وو. که یوه ورځ به مې ورته غږ نه وو اورېدلی، نو هغه ټوله ورځ به راباندې خرابه او زړه تنګي تېریدله.

********

وخت تېریدلو، هفتې، میاشتې او ان کال تیر شو، موږ یو بل ډېر ښه پیژندلي وو، لیلی یوه ډیره باحیاء، خوش اخلاقه او نرم مزاجه جلۍ وه، پلار یی په یوه موسسه کی کار کولو، لیلی خپله د قابله ګۍ څخه فارغه وه، خو لا یی کومه دنده نه وه پیدا کړی او نه ور پسی دا دومره ګرځیدلي وه. ځکه دندی ته یی لا ضرورت نه وو پیښ شوی، کورنۍ یی هم ډیره خوشبینه او نرم خلک وو، په دغه یو کال کی څو ځلی یی کور ته تللی وم، داسی احساس به می کولو لکه خپل کور ته چی ځم. د لیلی مور هم راته ډیر ناز او مینه راکوله، زه پری ډیر ګران وم، هغې کوم ځوی نه درلود نو ماته به یی د ځوی جان غږ کولو، پر ما هم ډیر ښه لګیدو. د وخت تیریدو سره زما او دلیلی تر منځ باور هم زیات شوی و. پارک، رستورانت، بازار او نورو ځایونو ته به مو کله کله یو ځای چکر وهلو.

د ورځی اکثریته برخه به مونږ دواړو یوځای تیروله. هره ورځ به مو کتابتون کی یو ځای کتابونه لوستل، ما خپل کتاب (د میني څلویښت اصول) کوم چي ما په لومړۍ ورځ اخیستي وو، لیلی ته ورکړ او ورته می وویل چی وی لولي او د یو یادګار په څیر یی له ځان سره وساتي. ژوند روان وو، خوږی او ترخې شیبې مو سره یو ځای

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مینې خاموش څاڅکې ـ

تیرولې. کله نا کله به مو پر وړو خبرو جنجال هم کاوه. څو ورځې به له یو بل خپه وو، خو په هغه خپګان کې هم یو عجیب خوند وو. ځکه د یو بل د پخلا کولو هیله مو په زړه کی ژوندۍ وه.

ما به هغې ته له ډېرې مینې «لیونوووو» ویل. دا نوم مې ډېر خوښ و. کله چې به ترې په یو څه خپه شوم، خبرې به مو نه کولې، هغه هم هوښیاره وه زما په کمزوري پوهېدله، هغې به راته په ناز د «زړګوووو» غږ وکړ، هر څه به رانه هېر شول. جګړې، ګیلې، تیزې خبرې... بېخي لکه هېڅ چې نه وي شوي. نپوهیږم خو د دغی خوږ غږ له اوریدو وروسته می زړه نشو کولای چی له هغی څخه لری اوسی...

موږ د یو بل همراز، هیله او ارمان ګرځېدلي وو. تر دي وخته هر څه بېخي ښه روان وو... تر دې دمه زموږ تر منځ کوم بل څه نه و. بس، یواځې د ملګرو په څېر مو ژوند مخته وړلو...

خو شاید زړه تر دې ډېر څه غوښتل!!!

زړه د یوي داسی خبری کول غوښتل، کوم چې ما یې د ویلو جرأت نه شو کولای، او کله چې به مې د ویلو جرأت وکړ، نو له ځان سره به می وویل چې اوس یې وخت نه دی، او یا به د ډار له وجی به خاموش پاتی شوم. د زړه خبره به هماغسې په زړه کې پاتې شوه، ورته مې نشو ویلای چې «زما لیونی مینه درسره لرم...»

ورته مې نشو ویلای چې «غواړم د خپل ژوند وروستی سلګی ستا په غیږ کي تیري کړم...»

ورته می نشو ویلای چی «ته زما د ژوند ډیوه یې...»

*******

څو هفتي وروسته، د تل په څېر یوه شپه ناوخته یې  راته زنګ وواهه.

ډېرې خبرې مو وکړې، په اخره کې یې راته وویل یوه پوښتنه کوم خو له زړه به جواب راکوې!!!!!

ما ورته وویل سمه ده لیونی څه خبره ده ووایه!

هغې را څخه وپوښتل......

«بارانه...  که داسی یو ورځ  راشي چی زه درسره نه اوسم، ته به څنګه ژوند کوې؟»

زه لږ ساعت خاموش وم، وروسته مې ورو وخندل او ورته می وویل...

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مينې خاموش څاڅکې ـ

«ته ولې داسې خبرې کوې؟ ته به تل زما تر څنګ يې.»

هغه لږ چوپ پاتې شوه. بيا يې راته ورو وويل:

«کاش چې ته دا جمله يوه ورځ جدي هم ووايې...»

نور موبايل يې قطع کړ.....

زه يو څو دقيقې په سوچ کې ولوېدم چې ولې يې دا خبره وکړه، خو بيا مې له نظره وغورځوله، ما ويل شايد همداسې به يې ويلې وي.

هغه يوه نه هېريدونکې شپه وه، کومه شپه چې زما د ذهني طوفان پيل و، داسې طوفان چې په ورو ورو يې زما د ژوند شګلنه جونګړه له ځانه سره وړله، داسې طوفان چې يوازې زما د خوشحاليو د وړلو لپاره راغلی وو.

********

هغه شپه يواځې زما لپاره عادي نه وه، ليلى هم تر سهاره پوري ويښه وه. د سوچونو په نړۍ کی ورکه وه، هغه ورځې د ليلى لپاره عادي نه وې، خو ليلى هڅه کوله چی عادي ښکاره شي.

د څو اونيو راهيسې يې بدن ستړی شوي و. کله کله به يې ناڅاپه سر تاوېده، کله به يې بې سببه دردونه احساسول. هغې به ځان ته ويل:

«کېدای شي ستړيا وي... يا شايد د کمخوني له وجی وي...»

خو هغه ورځ چې يې په هنداره کې خپل رنګ ژېړ او مړاوی وليد، د زړه درزا يې تېزه شوه. ذهن يی يو څه ګډوډ شو، له کوره ووتله او له ټولو پټه کلينيک ته لاړه تر څو په حقيقت پوهه شی چی له هغی سره څه روان دی.

کلينيک سپين او بې‌روحه وو، هری خواته يوه وژوونکي خاموشي خپره وه، ليلى معاينات وکړل، ډاکټر راغلي او د معايناتو په کتلو يی شروع وکړه.


ليکوال: رازق الله سالار

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مینې خاموش څاڅکې ـ

ډاکټر د راپور پاڼه په لاس کې ونیوله. له سر تر پایه یې ولوستله، څو ثانیې خاموشه وو، خو هماغه څو ثانیې خاموشي وې چې د انسان د ژوند د ټوټې کولو تصمیم نیسي.

له څنډ وروسته ډاکټر وویل «موږ باید نور معاینات هم وکړو، یواځې دا کافي نه دی...»

خو د ډاکټر سترګو هر څه ویلي وو. کله چې وروستي راپور راغی، لیلی یوازې ناسته وه. د ډاکټر پر لاس کې یې د کاغذونو د اړولو اواز اورېده، خو غوږونه یې ډپ وو، لکه له اوبو چې ډک شوي وی، زړه کی یی یو عجیبه احساس پیدا شوی وو.

د ډاکټر له خولی په ورو یوه کلیمه ووتله «سرطان.»،

که څه هم ډاکټر له ځان سره وویله خو لیلی اوریدلی وه، دا کلیمه واوره نه وه، خو د لیلی پر زړه داسې پرېوته لکه د واوری یو غر.

په ذهن کې یې لومړۍ پوښتنه دا وه چې:

«ولې زه؟»

«ولې په دی وخت کي؟»

ښه شیبه یی پر خپل برښلیک وژړل، او وروسته یی له خپل ځان سره وویل:

«باران ته به څنګه ووایم؟»

«د هغی غبرګون به څه وي؟»

هغه شپه یې اسمان ته کتل. ځان سره یې ورو وویل:

«خدایه... که دا ازموینه وي، نو لږ وخت راکړه. یوازې دومره چې هغه له ما بې‌وسه پاتې نه شي.»

څو ورځی یی په سوچ تیری کړی، چی اخیر څه وکړی، اخیر یی دا تصمیم ونیولو چی داسی یو کار وکړی ترڅو باران یي تر مرګه پوری په دی حقیقت پوه نشي،......

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مينې خاموش څاڅکې ـ

*******

له هغې شپې وروسته هر څه بدل شول، ليلى نوره هغه پخوانۍ ليلى نه وه، د هغې په چلند کې بدلون پيدا شوی وو، ما يې نور په سترګو کې هغه پخوانی معصوميت نه ليدلو، نور يې په شونډو هغه مسکا نه وه، په زړه کې يې هغه پخوانی جوش او مستي نه وه.

ليلى ورو ورو بدله شوې وه.

خو دا بدلون ناڅاپي نه و.

لومړی يې خندا کمه شوه.

بيا يې خبرې لنډې شوې.

بيا به يې مسيجونه ناوخته راتلل.

ما به چې کله هم ترې پوښتنه وکړه چې «ليلى، څه شوي؟ ته ښه نه ښکارې، ولې داسې عجيب حرکات کوې؟؟؟؟؟؟؟...»

هغه به موسکۍ شوه، خو داسې مسکا به يې وکړه چې مسکا به يې تر سترګو نه رسېده. او ويل به يې «زه ښه يم زړګوووووو... بس لږ ستړې شوې يم، نور هيڅ هم نشته.»

رنګ يې ورځ تر بلې خرابيده، سترګو يې تورې حلقې پيدا کړې وې، زياته کمزوري شوی وه، په لږو خبرو به هم ستړې کيدله. خو له دې هر څه با وجود به يې ويل چې ښه يم. زه له هيڅ هم خبر نه وم، زه يې له دې هر څه څخه ډير لرې وساتلم.

ورځې او شپې تېرېدې. د ليلى سره زما اړيکه اوس د وخت په تېرېدو سره کمزورې شوې وه. ژوند زموږ د سترګو او وړو خوشحاليو تر منځ روان و.

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مينې خاموش څاڅکې ـ

********

نږدې دوه مياشتې دا حالت روان و، نه ما د پوښتنې کولو جرأت وکړ، او نه هغې راته صفا خبره کوله. شيطان راته په زړه کی سل رقمه منفي خبری اچولي، رقم رقم سوچونه می زعن ته راتلل، اخير مې زړه تنگ شو او پوښتنه مې ترې وکړه، چې اخر ولې داسې کوې؟ د دې هر څه لامل څه دی؟ که زه دربانديې نور بوج اوسم نو صاف راته ووايه، نور به درته هېڅکله هم مزاحمت ونه کړم؟؟؟ بيا به دې نوم هم په خوله وانخلم؟؟؟؟؟

څو شيبې غلې وه، هر طرف ته خاموشي خپره وه، نری باران وريده، د هر يو څاڅکي اواز لکه د يو غمگينې سندرې په څېر تر غوږو کېده، داسې معلومېده لکه وربځې چې له ما سره زما پر پېښېدونکي مستقبل ژاړي.......

له اوږدې خاموشۍ وروسته يې خپلې شونډې وخوځولې او داسې جمله يې له خولې ووتله چې ما يې سوچ هم نه وو کړی.

داسې جمله چې زړه يې راته ټوټې کړ.

په خاموش او وېريدلي غږ يې راته وويل:

«شايد نور دا اړيکه سمه نه وي.»

"نور دا اړيکه مخ ته نه شم وړلای"، ښه به دا وي چې ته په خپله مخه لاړ شې او زه په خپله مخه.

زه خاموش وم، اخر څه به مې ويلي وای، څه ويلو ته نه و پاتې، په وروستي ځل مې يې سترگو ته په ځير وکتل، د اوښکو په کوچنيو څاڅکو کې يې، خپل گډوډ تصوير ته ځير شوم، د خپلو ناهيلو سترگو ننداره مې وکړه، زما ارمانونه او هيلې د هغې له اوښکو سره يو ځای ځمکې ته وغورځېدل، او نور روانه شوه، ان شاته يې هم ونه کتل، ما هم پرې د غږ کولو جرأت ونه کړ، ټوله شپه هم هلته د باران د څاڅکو لاندې ناست وم، بېخي غلی او خاموش....... داسی خاموش چی ان په خپلو رگونو کی می د وينی د جريان غږ اوريده، د زړه ضربان می بی حده تيز شوي وو.

له اوږد انتظار وروسته سهار شو، نپوهيږم چی څه وخت مگر باران ودريدلای وو، توری وريځی لا هم د اسمان پر لمنو کی پر خپلو لوبو بوختي وي، د اسمان په ځينو کونجونو کي د وريځو ترڅنگ لمر خپلی شغلی

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مینې خاموش څاڅکې ـ

پر څمکه پیرزو کړی وی، له خپل ځایه پاڅېدم او حرکت مې وکړ، د سوچونو په نړۍ کې ورک وم، هغه وروستۍ جمله مې د زړه او ماغزو په ژورو ته لوېدلې وه.

********

له هغې شپې وروسته نور مو له یو بل سره هېڅ ونه کتل، نه مې ورسره خبرې وکړې او نه مې ترې کوم خبر درلود، هر څه راته داسې ښکارېدل لکه د یو ښکلي خوب لیدل، داسې خوب چې نه غواړې پای ته ورسېږي خو له ویښېدو سره ګورې چې هېڅ هم نه وي، بس یو تش خیال وي نور هیڅ.........

خو بیا هم زړه می هیڅ طاقت نکولو، سل زړونه به می یو ځای کړل او مسیج به می ورته وکړ، له هغی لوری به مسیج وکتل شو خو کوم جواب به نوو، یا به داسي ځواب راکړل شو، لکه زه چی یو نابلده کس اوسم، دی کار به یي زما د زړه ضربان ودرول، ډیر زور به یې راکولو خو څه می نشو کولای کومه چاره می نه لرله.

څو اونۍ وروسته مې خبر تر لاسه کړ چې نن لیلی واده وکړ.

په هغه شپه زه تر سهاره ویښ وم. نه مې کومه چیغه وکړه، او نه مې وژړل. بس یوازې مې اسمان ته کتل.

او د ژوند رواني کړی لوبی ته می غور وکړ، چی نور به می کومي خواته بوځی.

********

خو دا واده دومره رنګین نه وو، څومره چی ما فکر کولو، د نکاح ورځ یی مکمل بې غږه او بي شوره وه. نه د خوشحالۍ او مستۍ سندرې چا ویلې وې، او نه د نازکو ټوکو او خندا غږ وو. هیڅ داسي نه ښکاریده لکه د واده ماحول چي وي، په شمار څو کسان واده ته راغلي وو، ساده میلمستیا وه خو له یوی عجیبي خاموشي څخه ټوله فضا ډکه وه.

لیلی د هندارې مخې ته ناسته وه. سپیني جامي یې اغوستې وي، خو سترګې یې تورې، مړاوي او له ژورې ستړیا ډکې.

شونډو ته یې په زوره موسکا راوستله خو نه کیدله. خپل ځان ته یې وویل:

«دا قرباني ده... مینه همیش یو ځای کیدل نه وي، مینه کله کله له لاسه ورکول هم وي.»

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مينې خاموش څاڅکې ـ

بشير (د ليلى خاوند) خاموش او نرم سړی و. هغه پوهېده چې دا واده د مينې نه، بکلې دا واده د رحم يوه زېږنده ده.

دا واده د دواړو تر منځ يوه ناويلې موافقه وه، دا يو تړون وو... د يو بل انسان د ژغورلو لپاره.

د نکاح پر مهال يې د «قبوله ده» کلميه خو وويله، خو په زړه کې يې يو بل نوم تکرار کړ.

په زړۀ کې يې په ورو وويل:

«ما وبخښه بارانه...»

کله چې خلک لاړل، ليلى يواځې شوه. د کړکۍ ترڅنګ ودرېده. لاس يې اسمان ته ونيولو. او وی ويل:

«ته يې ژوند رڼا کړه... که زه نه وم.»

********

زه نه پوهېدم څه وکړم. ټوله نړۍ راباندې تياره شوې وه. زړه مې له يوې لويې تشې ډک و. د هغې د نشتوالي فکر مې زړه ته نه لوېده. هغه خندا، خبرې، د هغې نرم غږ، هغه نازونه دغه هر څه لکه د يو فلم په څېر مې تر مخې تېر شول. اول ځل مې د ژوند په بې عدالتۍ شک پيدا شو، او دا جمله مې بار بار تکراروله، "اخر ولې"

د ژوند طمع مې قطع شوې وه، لکه د يو تش کالبوت په څېر شوی وم، له دغې شپې وروسته هېڅ نور په ژوند نه يم پوه شوی، چې کله شپه شوه او کله ورځ، له ژوند څخه ډېر لېرې تللی وم، لکه د بودا په څېر مې ځان په يو خيالي څمڅه کې بند کړی و، له هر څه ناخبره.....

********

ما په لومړيو ورځو کې ځان قوي ښودلو. خندا به مې کوله. هر چاته به مې ويل چې: «هر څه ښه دي.»

خو شپه چې راتله، ما به له خپل سيوري هم وېره درلوده. په کوټه کې به مې د هغې خوشبويي حس کوله، حال دا چې زيات وخت تېر شوي وو.

کله کله به مې موبايل ته کتل، داس به راته ښکاريله چې اوس به پيغام راشي. هسې به مې غوږ ته د زنګ اواز راتللو خو چې موبايل به مې راواخيسته هيڅ به هم نه وو.

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مینې خاموش څاڅکې ـ

یو ماښام مې د کوځې په پای کې یوه نجلۍ ولیده چې د لیلی په شان ښکاریدله.

بې اختیاره ورپسې ولاړم، غږ مې پرې وکړ، خو کله چې انجلۍ راوګرځېده، هغه لیلی نه وه.

د سړک پر غاړه کښېناستم. لومړی ځل مې ومنله چې زه مات شوی یم.

ورو ورو مې ذهني تمرکز له منځه لاړ. کتاب به مې خلاص کړ، خو یوه کرښه به مې هم نه شوه لوستلای. هر کار رانه نیمګړی پاتې کېده. کورنۍ مې راته اندېښمنه وه، خو زه چوپ او خاموش وم.

یو ځل مې د شپې په نیمایي کې روښانه او خوږ غږ واورېد:

«بارانه...»

زه راپورته شوم. زړه مې تېز ټکانونه وهل. خو کوټه تشه وه. هېڅوک هم نه وو، یواځې زه وم.

هغه شپه مې ومنله چې ځینې مینې د انسان حافظه هم زخمي کوي.

********

ورو ورو مې وغوښتل چې خپل درد په الفاظو کې ولټووم، کتابونو ته بیا ستون شوم. کله کله به مې د کتاب پاڼې اړولې. یوه ورځ مې په یوه کتاب کې په یوه جمله سترګې ولګېدې چې لیکلي یې وو:

«مینه هغه اور دی چې یا دې پاکوي، یا دې خاورې کوي.»

ما کتاب بند کړ، ځان سره مې وویل: «زما مینې دواړه وکړل... هم یې وسوځولم، او هم یې بل انسان راڅخه جوړ کړ.»

له هغې وروسته زه پوه شوم چې مینه یوازې د یو چا لاسته راوړل نه دې. بلکې:

مینه کله کله د بل چا د درد منل دي.

مینه کله کله چوپ پاتې کېدل دي.

مینه کله کله پرېښودل دي.

مینه کله کله له خپلو خوښیو تیریدل دي...

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مینې خاموش څاڅکې ـ

*******

په دې ترخو شپېو کې دوه میاشتې تېرې شوې، په خپلې خیالي دنیا کې ډوب وم چې یو ناڅاپي خبر مې ترلاسه کړ، چې لیلی ناروغه شوې وه او د ژوند سره یې خدای په امانې وکړه.

د دې خبر په اورېدو سره مې یو اواز تر غوږ شو، عجیب اواز و، سترګې مې تیاره شوې او بلې دنیا ته تللی وم، له ځانه ناخبره، چې کله مې سترګې خلاصې کړې، په یو سپین چپرکټ پروت وم، په چپ لاس کې مې سیرم چالان و، د کورنۍ غړي مې په ډکو سترګو سر ته ولاړ وو، زما په ویښېدو سره یې په نمجنو سترګو کې یو قسم ځلا ښکاره شوه، خو زما تصور بل ځای کې وو.

غوښتل مې چې له ځایه جیګ شم او د خپلې لیلی خواته لاړ شم، خو په بدن کې مې دومره زور نه و پاتې چې له خپل ځایه جیګ شم، هېڅ مې هم نشو کولای، همداسې خاموش په خپل ځای کې پروت وم او د خلکو څخه پټ مې په زړه کې چیغې وهلې، داسې چیغې چې غږ یې تر هیچا نه رسېده مګر زما د زړه ستنې یې لړزولې.

دي خبر مې وجود لړزولي وو. ما هیڅ باور نه کاوه. خو حقیقت همداسې بې رحمه وي.

********

څو ورځې وروسته مې جرأت پیدا کړ چې هغې ته د وروستی سلام کولو لپاره ورشم.

پښې مې درنې وې، خو زړه مې کلک کړ، ژبې مې لا هم د هغې نوم تکراراوه.

په لټولو لټولو می د لیلی قبر پیدا کړ. د هغې د قبر تر څنګ کښېناستم.

خاورې سړې وې، خو ما تودې احساسولې، لکه د زړه وروستۍ درزا.

په خاموشه غږ مې ورته وویل: « ته دلته یې... کنه؟»

هیڅ غږ نه وو، یوه ترخه خاموشي خپره وه.

هوا چوپ وه، خو زه پوهېدم چې ځینې اړیکې د بدن د مرګه سره نه مري. ما لاس پر خاوره کېښود. او ورو می ورته وویل. «موږ نیمایي کیسه پاتې شو... خو شاید کیسې نیمګړې نه وي. شاید انسانان نیمګړې وي.»

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مينې خاموش څاڅکې ـ

اسمان ته مي وکتل.

سترګو مي نه ژړلې، دا ځل زړا ارامه شوې وه. ومی ویل: «که تقدیر داسې وي، نو زه يې همداسې منم... خو پوهه شه، ته زما له برخلیک څخه لا نه نه يې وتلې.»

باد ورو وخوځېد. زه ولاړ شوم او په درندو قدمونو تری روان شوم.

کور ته چې راستون شوم، ورور مې يوه پاکټ راکړ.

هغې وویل: «دا کوم چا درته پرې ایښی و...»

خپلي کوتي ته لاړم ذهن مي پرځای نه وو، بیرته می په کاغذي پاکټ سترګي ولړیدې، پاکټ می ورو ورو پرانیست.

دننه یو لنډ کاغذ و. په هغې کي لیکل شوي وو:

«بارانه...

هر څه چې ته ویني، هغه بشپړ حقیقت نه دی. که زړه دې ومنله، یوه ورځ به يې ومومې.

لیلی هېڅکله ته نه يي پرېښې... یوازې يې لاره بدله کړې وه.»

د لیک تر څنګ یوه پته لیکل شوی وه.

او یو نوم «بشیر»!!!!.

********

سبا سهار له کوره ووتلم او هغه ادرس ته لاړم چې په کاغذ کی لیکل شوی وو، له ډیرو ګرځیدو وروسته می د لیلی د خاوند کور پیدا کړ...

دروازه می ووهله، په دوهم ځل وهلو سره دروازه خلاصه شوه، یو نری ځوان می تر مخی ودریدلو، ښایسته څهره او لوړ قد یی لرلو، زما په لیدو سره یې وپېژندلم او راغاړیوتو، کور ته يې ننویستلم، که څه هم زیات حیران شوم چې زه يې لا تر اوسه لیدلی هم نه یم نو څنګه يې وپېژندلم خو زما حالت داسې نه و چې په دې

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مينې خاموش څاڅکې ـ

اړه فکر وکړم، او يا ترې پوښتنه وکړم، بشير چاى راوړ، زما له ستوني نه تېرېده خو د بشير بار بار ټينګار مجبور کړم چې په زوره يې له ستوني تېر کړم، له اوږدې ناستې وروسته مې ورته د خپل راتګ لامل وويل چې ولې راغلی يم، مګر هغه له مخکې زما د ورتګ په لامل پوه وو، يوه ترخه مسکا يې په خوله شوه او له کوټې ووتلو، څو شېبې ورک و، نور هم اندېښمن شوم، خو له انتظار پرته مې نور څه نشو کولای، له يو څه ځنډ وروسته بشير راغی او خواته مې کښېناست، په اوږه يې راته لاس کېښود او تسلي يې راکړه، زه د هغه په دې حرکاتو هېڅ پوه نشوم، يو پلاستيک يې راکړ او ويې ويل چې کله خپل کور ته لاړې بيا يې خلاص کړه، زما نور له اندېښنې لړ پاتې و چې زړه ودريږی، نور يی هيڅ راته ونه ويل، زما زړه صرف همدا غوښتل چی په حقيقت پوه شم، چی تيرو دوه نيمو مياشتو کی څه شوی وو او ولی شوی وو، له بشير مې زر زر خدای په اماني واخيسته او د کور په لور ستون شوم، کور ته له رسېدو سره خپل اطاق ته لاړم، دروازه مې بنده کړه او په کټ کې مې د پلاستيک په پرانيستلو پيل وکړ، په منځ کې يې يو سور رنګه دستمال و چې غوټه شوی و، زر مې د دستمال ولونه خلاص کړل، په منځ کې يې يو کتاب (د مينې څلوېښت اصول) پروت وو کوم چې ما ليلی ته ورکړی و او ورسره څو داني ليکونه پراته وو.

د زړه ضربان مې زيات شول، بدن مې په رېږديدو شو، لاسونه مې لړزې ونيول، ذهن کې مې طوفان پيل شو، په رېږدېدلو لاسونو مې لومړی ليک راواخيست او په لوستلو مې پيل وکړ.........

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مينې خاموش څاڅکې ـ

********

## لومړی لیک..........

زما گرانه بارانه!!!!!!!!

که ته چیرته دا لیک لولې نو پوه شه چې زه په دې دنیا کې نه یم.

دوه نیمې میاشتې مخکې زه په دې پوه شوم چې د وینې له یوې نادرې ناروغۍ (سرطان) سره مخ یم. زما وینه نورزما د بدن نه وه. له ما پردۍ شوي وه. ډاکټرانو راته وویل چې وخت ډېر نه دی پاتې. زه په مکمل ډول ماته شوی وم، زهنی مقاومت می په هماغه شیبه له لاسه ورکړی وو. (سرطان) دا یو داسی بدمرغه نوم دی چی په اوریدو سره یی انسان هملته نیم ماتیږی، له زړه څخه یی خوشحالی، هیله، امید، طمع، توقع هر څه کډه کوی. خو ته پوهیږی، په دغه ستونزمنه شیبه کې ما تر ټولو زیات ستا په اړه فکر کاوه.

زه په دې پوهېدم که ته په دې هر څه خبر شې، تر خپلې وروستۍ سلگۍ پورې به مې یوازې پرې نه ږدې. خو ما نه غوښتل چې ستا ځواني د روغتونونو په دهلېزونو کې وسوځي.

ما نه غوښتل چی زما د حالت په لیدو هره لحظه ستا زړه مات او د ښایسته سترگو ځلاء دی مړاوی شی.

نو ما فیصله وکړه چې خپل احساسات ووژنم، له تا لرې شم تر څو ستا زړه دومره ونه دردېږي. زه پوهېږم چې په هغو خبرو مې تاته ډېر درد درکړ، د هغه لپاره در څخه بخښنه غواړم خو کوم درد چې ستا د سترگو په وړاندې زما مرگ ته د نژدې کیدلو وو هغه دې نشو زغملای نو ما ځکه داسې وکړل، بیا هم بخښنه غواړم که امکان لري ومې بخښه......

ستا لیونۍ🖤🖤🖤

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مينې خاموش څاڅکې ـ

********

## دوهم ليک مې خلاص کړ....

هی زما ساده ليونيه!!!!!!

ته زما د ژوند تر ټولو روښانه برخه وې.

زه پوهېدم چې ته راسره مينه لرې. او په دې هم پوه شه چې ما هم درسره بی حده مينه لرله. خو کله چې پوه شوم زما بدن به ما پرېږدي، نو ما فکر وکړ او له ځانه می پوښتنه وکړه: چې ايا زه دا حق لرم تا له ځان سره دې تيارو ته را کش کړم؟

نو ما ځان سره تصميم ونيو، ما ته وځورولی. ما تاته هغه جمله وويله چې «دا اړيکه نور مخ ته نشم وړلای». د هرې کلمې ويلو مې زړه ټوټه کاوه. هره خبره می د زړه په زور کوله، خو مجبوره وم چې ويې وايم. بله چاره می نه لرله.

ما واده ته ضرورت نه درلود او نه دومره وخت راسره و، دا يوازې يو تمثيلي واده و، ما يوازې غوښتل ته په قهر شې، تر څو له ما وروسته دې زړه دومره مات نه شي. او زما د واده په ليدو خپل ژوند مخکی ويسی او زما په انتظار نه اوسی.

بارانه!!!

زه در څخه په يوی خبری ډېر زيات خپه يم، هغه دا چی، ته ډېر خاموشه وې. ما ډېر انتظار وکړ چې ته به يوه ورځ راته ووايې چې:

«زه تا سره مينه لرم.»

خو ته چوپ وې. ما دې جملې ته ډېر انتظار وکړ، خو په انتظار انتظار کې ډېر ناوخته شو، موږ دواړو مينه لرله، خو دواړو ونه ويل.

که بيا چېرته ژوند وای، ما به صبر نه کاوه. له تا مخکی کيدلم او بې له انتظار مې درته ويل چې مينه درسره لرم.

ستا ليونۍ 💔💔💔

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مينې خاموش څاڅکې ـ

********

## وروستی لیک.........

وروستی لیک د بشیر په خط لیکل شوی و. په هغه لیک کې زما د لیلی د وروستیو سلګیو کیسه لیکل شوې وه.........

د روغتون وروستی ورځې وې، ژمی خپل اوج ته رسېدلی و، هرې خواته د واورو انبارونه پراته وو.

د روغتون خونه سپینه او سړه وه. د درملو بوی په هوا کې خپور و. لیلی د سپین چپرکټ پر سر پرته وه.

وېښتان یې توی شوي وو. بدن یې کمزوری شوی و. او یوه ترخه مسکا یې په خوله وه.

د هغې د څنګ مېز باندې یو کتاب پروت و (د مینې څلوېښت اصول).

هغې به کله کله پاڼې اړولې او د شمس خبرې به یې لوستلې او ورو به موسکی شوه.

ډاکټر ورو اطاق ته داخل شو. په سترګو کې یې هغه درونډ سکوت و چې هر څه یې ویل. ډاکټر نه غوښتل چې دا خبره لیلی ته وکړي خو له ویلو پرته بله چاره یې هم نه لرله.

«مور، هڅه وکړه... خو بدن دې نور مقاومت نه شي کولی، متأسفانه ډېر وخت نه لرې، یوازې یو څو شېبې د دې فاني دنیا مېلمنه یې.» که کوم وروستی وصیت یا وینا لرلی نو ویلای یی شی، لیلی په ورو سر وښوراوه. ځکه هغې له پخوا دا حقیقت منلی وو. هغې له ډاکټر وغوښتل چی ماته غږ وکړی، زه ورغلم او له ما یی یوه غوښتنه وکړه:

«بشیره!!! که زه لاړه شم... دا کتاب او لیکونه به حتماً باران ته رسوې، نه غواړم چې تر دي زیات د هغه ازار واخلم.» ما هم ورسره ژمنه وکړه. هغه شپه واوره ورو ورو ورېدله. د زړه د ضربان ماشین ورو ورو په کمېدو وو. هغې په ورو غږ له ځانه سره وویل:

«بارانه... مینه درسره لرم...»

ماشین اواز شروع کړ، د زړه د ضربانو لیکه مستقیمه شوه. هېڅ شور نه و. یوازې یوه ترخه خاموشي خپره وه او نور هېڅ!!! 💔💔💔 20/02/2026

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مينې خاموش څاڅکې ـ

********

له دی سره می بی اختیاده له خولې چیغه ووتله، لیکونه مې له لاسه ولوېدل، زړه می اور اخیستي وو، له دنیا می کرکه پیدا شوه، ژوند راته نور یو بوج ښکاریده. پاڅیدم، له کوره ووتلم او په منډه یو ځل بیا د هدیرې پر لور روان شوم...

لکه د لیونو يې د قبر پر لور لاړم، له یو ساعت منډو وروسته می په یو سپینی تختی سترگی ولړیدی چی پری لیکل شوی وو:

مرحومه لیلی کال: 2026 → 2006

پر زنگنو شوم، لاس می پر یخې ډبرې کېښود. او ورو می وویل:

«مور دواړو د شمس او مولانا کیسه ولوستله...

خو ژوند زموږ لپاره د بیلتون برخه غوره کړه.»

خو دا ځل د تیر په څیر نه وو، دا ځل مې په لوړ غږ وژړل هیڅ می زړه نه تشیده، ښه ډیري اوښکی می تویی کړی. نه لکه د یو ماشوم په څیر، بلکې د هغه سړی په څیر چې پوه شي خپل ژوند يې د یوې جملې د نه ویلو له امله بدل شوی. هغه شیبه زه په دی پوه شوم: چی ځینې کیسې پای نه لري، یوازې په زړونو کې ژوندۍ پاتې کېږي. د هغې یاد مې د ژوند وروستی رڼا وه، خو فزیکي شتون يې زما له نړۍ ډیر زیات لری تللی وو. زه هلته ولاړ وم، او له ځان سره مې وویل:

"ولې دا کیسه پای ته ورسیده، ایا ددی کیسی پای ضرور وو؟"

********

له همدغې ورځې وروسته زه پخوانی باران پاتي نشوم، زما حالت ورځ تر بلې په خرابېدو شو، ذهني توازن مې له لاسه ورکړی و، له حافظې مې پخواني خاطري ورو ورو په کمېدو وې، له حالاتو راته داسې معلومېده چې شاید داسې یو وخت ته ورسیږم چې هېڅ مې هم په یاد نه وي، شاید خپل نوم هم نه......

پای

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مينې خاموش څاڅکې ـ

************

د ياداښت کتابچه مې بنده کړه، ټول بدن مې خولې شوی و، د زړه ضربان مې بې حده تيز و، پر بدن کې مې يو عجيبه څپه احساس کړه، داسې څپه چې بيرته يې پخوانيو يادونو ته بوتلم، بيرته يې راته د زړه ژور زخمونه تازه کړل، هغه څه يې راپه ياد کړل چې په دې دومره وخت کې مې له ياده وتلي و.

له کوره ووتلم او د هغې د قبر پر لور روان شوم. شپه نوره په ختمېدو وه، تورو وريځو اسمان پټ کړی و، او باران ورو ورو وريده. هر قدم مې په ځمکه کې د هغې د حضور ياد تازه کاوه. نه پوهيدم چې قبر به يې چيرته وی، ځای يی را څخه هير شوی وو، خو بس په لټولو لټولو مې اخير پيدا کړ، د قبر څنګ ته خاموشه ودريدلم.

باران ورو ورو تيز شو، د هرې څاڅکې سره مې د هغې د نشتوالي درد محسوس کاوه. د قبر د تيږې نرموالی مې لمس کړ، او د هغې په ياد کی مې څو اوښکې له سترګو تويې شوې. هر څاڅکی د هغې نشتون رايادوو، او زه پوه شوم چې ځينې دردونه يوازې په خيالونو، يادونو، او د باران په څاڅکو کې ژوندی پاتې کيږي.

باد د هغې د يادونو وريښمو ته ورته وزرې پورته کولې، او ما د باد په غږ کې د هغې د ژوند وروستۍ خبرې اوريدلې. د هغې نرم غږ، د موسکا نرۍ انعکاس، د هغی د نرمو لاسونو جادو چې ما هيڅکله لمس نه کړای شوه... هر څه مې د زړه له ژورې تارونو سره تړلي وو.

شپه ختمه شوه. باران لا هم نه و دريدلی، د هغې د نشتوالي احساس د هر څاڅکي په تويېدو کې محسوس کېده. زه د قبر تر څنګ ناست وم، د ليلی پر قبر ور ړنګ شوي وم، لکه د وخت په غيږ کې ودريدلی شمع، چې يوازې د تياره او رڼا تر منځ سوځي.

باران لا هم خپل وريدو ته دوام ورکړی وو، لکه د اسمان ژړا چې هيڅ نه ارامه کېده. لاس مې په خاورې او تيږو تېر کړ. هره تيږه د هغې د شتون ياد تازه کولو.

د قبر پر تيږه مې لاس کيښود او ورته مې وويل:

«ما ستا نه وروسته ژوند کول زده نه کړل...»

زما ګراني ليلی...

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مينې خاموش څاڅکې ـ

زه درسره مينه لرم.

ما له لومړي ورځې لرله.

زه يوازې وېريدم، له دې ويريدلم که درته ووايم، هر څه به بدل شي.

خو زه په دې نه پوهېدم چې که ونه وايم، هر څه به له منځه لاړ شي.

که په هر ځای کې يې هملته انتظار وکړه. زه هم درځم او دې بېلتون ته د پای ټکی ږدم. له خپل ځايه پورته شوم او بيرته د کور په لور لاړم.....

********

څو هفتې ډيري په مشکله تيرې شوي، د هغه بدمرغې ترخې ورځې په انتظار وم چې زما ليلی يې را څخه اخيستې وه. له اوږد انتظار وروسته هغه ورځ هم راورسيدله. ژمی بېرته خپل اوج ته ورسيد، له همغې پيښې يو کال پوره شوي وو،

هماغه نېټه.

هماغه مياشت.

هماغه يخ باد.

هماغه واوره او باران.

زه له کوره ووتلم.

په لاس کې مې يو کوچنی پاکټ و.

هغه پاکټ چې څو اونۍ مخکې مې پرانيستی وو... هغه کتابچه چې د "باران" نوم پرې ليکل شوی و. هغه کتاب او هغه ليکونه چې ليلی راته راليږلي وو، په کې پراته وو.

د قبر تر څنګ کښيناستم، هديره بېخي تشه وه.

واوره ورو ورو پر قبرونو لوېده. د ليلی د قبر ډېره نيمه سپينه شوې وه.

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مينې خاموش څاڅکې ـ

لاس مې د ډبرې پر سر کېښود او ومې ويل:

«دا دی بل کال هم پوره شو...

خو زه لا اوس هم په هماغه ورځ کې بند پاتې يم.»

هوا سړه وه. له ساه مې خړ تپ جيګېدلو.

هغه پاکټ مې خلاص کړ. کتابچه مې راواخيسته. ورو ورو مې ليلی ته ولوستله: د پوهنتون وروستۍ ورځې، کتابتون، لومړۍ خندا، لومړۍ جګړه. او د فراق شېبې... له سر تر پايه مې ورته ټوله کيسه واوروله.

هره پاڼه او لفظ يې لکه خنجر داسي وو. سر مې د قبر پر ډبره کېښود.

«ليلی...

ما له تا وروسته ژوند کول زده نه کړل. زه ستا له لاسه ورکولو وروسته هغسې پاتې نه شوم.

تا غوښتل زه پياوړی شم... خو زه له تا پرته نيمايي شوم.»

باد نور هم تيز شو. واوره مې د اوږو پر سر کېناسته. د جيب څخه مې يو کوچنی کاغذ راواخيست.

يو نوی ليک، زما وروستی ليک...

«ليلی!!!...

تا ويل که بيا ژوند وای، ته به راته ويلي وای چې مينه لرې.

خو زه دادي نن درته وايم.

زه درسره مينه لرم.

ما له لومړۍ ورځې لرله. او تل به يې ولرم. زه له تا وروسته يوازې ژوند نه غواړم. زه يوازې نه شم پاتې کېدلای.

زه نه غواړم نور د ستورو لاندې يوازې خبرې وکړم. زه نه غواړم نور ستا غږ يوازې په حافظه کې واورم.»

هغه ليکونه، کتاب او کتابچه مې د د قبر د شناختې تر څنګ کېښوده.

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مینې خاموش څاڅکې ـ

واوره اوس درنه شوې وه.

زه د قبر تر څنګ اوږد وغځېدم.

سر مې د ډبرې څنګ ته کېښود.

د لیلی قبر ته می غیږه ورکړه.

هوا یخه وه. خو ما نور د یخ احساس نه کاوه.

زما سترګې ورو ورو پټې شوې. ذهن کې مې هغه لومړۍ ورځ راغله،

هغه لومړۍ لیدنه.

هغه څوکی.

هغه نرمه موسکا.

هغه خبرې،

هغه نازونه،

هغه شېبې...

د باد شور ورو ورو کم شو. واوری زما بدن په مکمل ډول پټ کړ. ساه مې ورو شوه.

ورو...

ورو...

ورو...

تر هغې چې نور مې له خولې بخار نه پورته کېده!!!

ketabton.com - The Digital Library

# ـ د مينې خاموش څاڅکې ـ

********

سبا سهار

د هديرې ساتونکي هديري ته ننوتل او هلته يې دوه سيوري وليدل،

يو د قبر شناختي او يو د قبر ترځنگ د باران پر جسد د انبار شوي واوري سيوري.

سواوره نور ودريدلي وه.

د باران لاس لا هم د ليلى د قبر پر ډبره پروت وو.

په هماغه سهار د باران قبر د ليلى د قبر ترڅنگ جوړ شو. د دواړو قبرونو ترمنځ واټن ډېر کم وو.

لکه چې بالاخره يې هغه فاصله کمه کړې وه چې د ژوند ورباندې پر ژوندينې نه وه پېرزو.

# پای

**Thank you for reading**

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*